# دغمونو لړی

د غمونو لړی چاته وښیرمه
افغانان له خوب به څنګه ویښومه

ټول غورځونه دی کانه
کوی راز راز بهانه
وطن سوځی په لمبوکی
د غلیم په دسیسو کی
یتیمان ټول په ژړا دي
کونډي ټول په واویلا دي
د بی وزلو کور نړیږی
په بمونو ویجاړیږی
شتمنی د خلک لوټیږی
ټول بهر ته وړل کیږی

وایه غږ خپله چا ته ورسومه
دغمونو لړی چاته وښیرمه

واک او اختیار د پردو دي
عیش عشرت ټول دغلودي
په ټوپک ځان سمبال کړی
د غریبو جیب شکولی
نه دولت شته نه قاضی

خلک تول دی ناراضی
د ځنګل قانون چلیږی
د مذهب تر شا پټیږی
خلک تښتی لور په لور
مړی پروت دی په هرکور

ترڅو پوری زه به اوښکی تویومه
د غمونو لړی چاته وڅیړمه

څه دپاره ورور وژنه
ولی ناست یی لاس تر زنه
دافغانیت غیرت دی څه شو
تاته خلک ولی اوپړه شو
لږ غیرت کول په کار دي
له وطن ځنی سر جار دي
غلی مه کیښینه په کور
زرلاس یوکه له خپل ورور
دښمن وشړه له خاوری
که له ما ځنی ته اوری

خپل خبری زر به چاته وکومه
د غمونو لړی چاته وڅیړمه

بس دی سر دی په ګریوان که
ځان دی پوه په دی داستان که

له درانه خوبه را ویښ شه
ملا دی وتړه په هوش شه
افغانان تول را بیدار که
ځان دی خپله لږ هوښیار که
د غلیم غوړونه پری که
خپل چاړه په وینو سری که
دښمن نه وځی په خوښه
په زور وباسه له مخه

زه هم تا سره تر پایه پوری یمه
د غمونو لړی چاته وخیږمه

پوهندوی دوکتور سید حسام (مل)
جرمنی ( ۲۰۰۸-۷-۲۰ )